امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۳ الی ۲۸ سرطان ۱۴۰۳

## شماره شصت و پنجم

## په ننگرهار ولایت کې طوفانونو ځانی او مالي زیانونه اړولي، د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست زیانمنو سره د خواخوږۍ لپاره یاد ولایت ته سفر وکړ



محترم الحاج ملا نورالدین ترابي, د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست, په ننگرهار ولایت کې د طوفانونو له امله زیانمنو ته د رسېدنې لړۍ د مدیریت په موخه, د روان کال د محرم په ۱۰ نېټه د یو پلاوي په ملتیا یاد ولایت ته سفر وکړ.

محترم الحاج ترابي صاحب د پېښو بر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست, په داسې حال کې چې محترم مولوي سعید احمد بنوري د ننگرهار ولایت مرستیال والي, محترم الحاج ملاجانان سایق د اطلاعاتو او عامه اړیکو ...

ادامه در صفحه۴

## ۲۵۰ سیلاب ځپلي کورنۍ په کابل ولایت کې له خوراکي مرستو برخه منې شوې



محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي اداري سرپرست د محترم محمد سلیم حقاني، د کابل ولایت پېښو سره د مبارزې رییس او د افغان ماشومانو لپاره د جرمني مرستې د موسسې استازي ...

ادامه در صفحه۴

## معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث طی سفر اضطراری جهت رسیدگی به سیلاب‌زده‌گان عازم ولایت کاپیسا شد



محترم الحاج عبدالولی ځارنوال معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث، همراه با ملا نور محمد بدری، رئیس وقایه و کاهش خطر جهت رسیدگی به متضررین ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها...

ادامه در صفحه ۵

## دیدار رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با والی بدخشان



محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث که توسط محترم قاری محمد خوشحال زمانی رئیس مرکز عملیات اضطرار و هیئت...

ادامه در صفحه ۷

@afghanistanndma | Afghanistanndma | andma.gov.af | 0202104926

# محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د ماين پاکی د موسسو له مسوولينو سره ليدنه وکړه



محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست، په افغانستان کې د ماين پاکي د موسسو MCP, DAFA, DRC, ATC, MDC, FSD، هلو ټرسټ او اومر له مسوولينو سره په خپل کاري دفتر کې ليدنه او خبرې وکړې.

په دې ليدنه کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست ووېل: چې هر کال په افغانستان کې د ماينونو او ناچاوده توکو له امله لسګونه هيوادوال خپل ژوند له لاسه ورکوي، او اړتيا ده چې د ماين پاکي په برخه کې په پراخه کچه هڅې ترسره شي.

محترم الحاج ملا نورالدين ترابي زياته کړه، چې دغه ماينونو د تېرو څو لسيزو د جګړو په وخت کې ځای پر ځای شوي و، او دغه ماينونه زياته موده په ځمکه کې د پاتې کېدو وړتيا په درلودو سره وروسته يې د چاودېدو امکان هم وي، او دا مهال په ولاياتو کې اکثره ځمکې په ماينونو او ناچاوده توکو ککړې دي.

همدارنګه د پېښو پر وړاندې چمتووالي ملي ادارې سرپرست ووېل: چې د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی ترڅو له ملي او نړۍ والو موسسو سره د ماين پاکي په برخه کې کار وکړي او اړتيا ده چې د ماين پاکي په برخه کې له دواړو خواوو هر اړخيزه همکاري ترسره شي.

ښاغلي ملا نورالدين ترابي صاحب ووېل: چې همدا تېره ورځ په ميدان وردګ ولايت کې د سړک غاړې ماين چاودنې له امله يو مسافر وړونکی موټر د دغه ماين له امله زيانمن شوی، چې له امله يې زموږ يو شمېر هيوادوال شهيدان او ټپيان شول.

د پېښو پر وړاندې چمتووالي ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د ماين پاکي د يادو موسسو مسوولينو ته ډاډ ورکړ چې زموږ په اداره کې به ستاسو ټولې قانوني چارې په وخت سره ترسره کېږي او په دی برخه کې به له هر ډول خنډ او ځنډ څخه مخنيوی وشي.

همدارنګه په افغانستان کې د ماين پاکي موسسې هلوټرسټ رييس ووېل: کوم ماينونه چې اوس مهال په افغانستان کې شتون لري هغه ټول د پخوانيو جګړو په وخت کې بې نقشې ځای پر ځای شوي دي. او زياته يې کړه، چې دا مهال په افغانستان کې د ماين پاکي موسسې د بودجې له کمښت سره مخ دي، او نړۍ واله ټولنه د افغانستان پرځای ځينو نورو هيوادونو لکه د اوکراين او سوډان جګړې په پام کې نېولې دي او افغانستان يې بدبختانه د ماين پاکي په برخه کې له پامه غورځولې.

همدارنګه يادونه يې وکړه چې، د ماين پاکي په برخه کې ۱۲۲ هيوادونو يو وخت د ماين پاکي په برخه کې تړون لاسليک کړ چې نور به د ماينونو له جوړولو څخه ډډه وکړي خو ځينو نورو هيوادونو د خپل منځي سيالۍ په موخه د دغه تړون د لاسليک کولو څخه مخنيوی وکړ.

نوموړي ووېل: چې له بده مرغه د ماين پاکي برخې ته تبليغات نه کېږي، او ترڅنګ يې د ماين پاکي پرځای پوليو او خوارځواکۍ ته ډېره پاملرنه کېږي چې په دې ترڅ کې پوليو او خوار ځواکۍ ته لسګونه ميليونه امريکايي ډالر ځانګړې شوي خو له بل پلوه ماين پاکي ته پاملرنه نه کېږي. او هغه يادونه وکړه چې زموږ لخوا د ماين پاکي لپاره د بودجې غوښتنې په وخت کې اروپايي ټولنه دا موضوع سياسي کوي او موږ ته د ښځو تعليم او نور موضوعات بهانه کوي او هغوی وايي چې د افغانستان د ماين پاکي موسسې دي د بهرنيو موسسو تر چتر لاندې خپل کارونه ترسره کړي.

همدارنګه د هلوټرسټ د ماين پاکي موسسې رييس ووېل، چې هره مياشت افغانستان ته د بشري مرستو لپاره د ورکړل شويو نغدي مرستو څخه که موږ ته ۲ سلنه بودجه راکړل شي نو موږ د ماين پاکي چارې په ښه توګه ترسره کولای شو.

په پای کې نوموړي ووېل: چې له بده مرغه په ځينو ادارو کې زموږ اداري کارونه له خنډ او ځنډ سره مخ کېږي او دا يوه غټه ستونزه ده. او همدارنګه د يادو موسسو مسوولينو د پېښو پر وړاندې چمتووالي ملي ادارې اړوند د ماين پاکي چارو د همغږۍ رياست له کارونو څخه د ستاينې ترڅنګ يې د هر اړخيزې همکاريو ژمنه وکړه.

## محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي اداري سرپرست کونړ ولایت ته سفر وکړ او د سېلابونو له امله د شهیدانو ورثه ته يې نغدی مرستې ووېشلې



محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی اداري سرپرست, کونړ ولایت ته د سفر په ترڅ کې د محترم مولوی عبدالله حقانی د یاد ولایت مقام مرستیال په ملتیا, د کونړ ولایت مرکز اسعدآباد اړوند سیمه کې یې د سېلابونو له امله د شهیدانو له ورثه سره وکتل, شهیدانو ته یې له خدای ج څخه د جنت الفردوس دعا وکړه او هغوی ته یې د تسلیت ورکولو ترڅنګ د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه او د ریاست الوزرا مقام د خواخوږی او غمشریکی پیغام بیان کړ, او د هر شهید کورنۍ ته یې ۱۰۰ زره افغانۍ ووېشلې,

د دې ترڅنګ نوموړی زیاته کړه چې دا نغدی مرستې د شهیدانو د ژوند عوض نشی کېدای او یوازې د خواخوږی په توګه تاسو ته درکړل شوې.

همدارنګه ښاغلی ترابي صاحب, د سېلابونو له امله له زیانمنې سیمې څخه لیدنه وکړه, او د خلکو د ستونزو د اورېدو ترڅنګ یې هغوی ته د بشری مرستو رسولو او د وقایوی پروژو پلی کولو ډاډ ورکړ.

د یادونې وړ ده چې, محترم الحاج ملاجانان سایق, د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس خلکو ته د عامه پوهاوی پروګرامونو په ترسره کولو باندې ټینګار وکړ, او په همدې سیمه کې یو لوری ته چې استنادی دیوال د سېلابونو د خطرونو کمولو په موخه جوړ شوې و, نو په هغه سیمه کې د سېلابونو له زیانونو مخنیوی شوی و, خو بل لوری ته چې استنادی دیوال نه و, په هغه لوری کې د سېلاب له امله یو کور زیانمن شوی و.

ورته مهال د شهید ورثه او نغدی مرستې ترلاسه کونکی د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه له خواخوږی او د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی اداري سرپرست له راتګ او غمشریکی څخه مننه وکړه او د اسلامی نظام د بقا او په ټوله نړۍ کې د اسلامی نظام د راتلو لپاره د دعا کولو ترڅنګ له اسلامی امارت څخه د نورو مرستو غوښتنه هم وکړه.

## معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث با والی ولایت کاپیسا دیدار نمود



حسب هدایت رئیس الوزراءا.ا.ا، محترم الحاج عبدالولی ځارنوال، معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث، همراه با ملا نور محمد بدری، رئیس وقایه و کاهش خطر و مولوی محمد صابر احمد، رئیس آماده‌گی مبارزه با حوادث با قاری احسان‌الله بریال والی ولایت کاپیسا دیدار و روی مدیریت حوادث طبیعی و توزیع کمک‌های نقدی برای شهدا و مجروحین سیلاب‌های اخیر و سروی ساحات آسیب‌دیده صحبت نمود.

در این دیدار، معین انسجام امورحوادث: گفت که هدف از سفر ما به این ولایت دلجویی، غم‌شریکی با ورثه شهدا و مجروحین سیلاب‌های اخیر، توزیع کمک‌های نقدی برای آنان و سروی ساحات آسیب‌دیده می‌باشد.

محترم الحاج عبدالولی ځارنوال افزود که در روزهای آینده کمک‌های بیشتر خوراکی و غیرخوراکی به منظور رسیدگی به متضرران به این ولایت انتقال می‌گردد.

وی همچنان به رئیس آماده‌گی مبارزه با حوادث این ولایت، هدایت داد که به نیازمندی های تمام سیلاب‌زده‌گان به صورت یک سان رسیدگی صورت گیرد.

در همین حال، قاری احسان‌الله بریال، والی ولایت کاپیسا، در کنار خوش آمدید گویی به معین انسجام امور حوادث و هیئت همراه شان در مورد تلفات جانی و خسارات هنگفت مالی در این ولایت صحبت نموده، خواهان همکاری بیشتر برای این ولایت شد.

## په ننګرهار ولایت کې طوفانونو ځانی او مالي زیانونه اړولي، د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست زیانمنو سره د خواخوږۍ لپاره یاد ولایت ته سفر وکړ



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، په ننګرهار ولایت کې د طوفانونو له امله زیانمنو ته د رسېدنې لړۍ د مدیریت په موخه، د روان کال د محرم په ۱۰ نېټه د یو پلاوی په ملتیا یاد ولایت ته سفر وکړ.
محترم الحاج ترابی صاحب د پېښو بر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، په داسې حال کې چې محترم مولوی سعید احمد بنوری د د ننګرهار ولایت مرستیال والی، محترم الحاج ملاجانان سایق د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس، محترم مولوی سیف الله خالد د یاد ولایت پېښو سره د مبارزې رییس یې ملتیا کوله، د پېښې له امله زیانمنو سیمو څخه یې لیدنه وکړه او شهیدانو ته یې له خدای ج څخه جنت الفردوس او ټپیانو ته د بېرنۍ شفا په غوښتنې سره د افغانستان اسلامی امارت د ریاست الوزرا پیغام هم بیان کړ.
ورته مهال، د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، د ۷ کسانو شهیدانو او ۲ ټپیانو ورثه ته ۸ سوه زره افغانۍ ووېشلې او ویې وېل چې، دا مرستې نشې کولای د شهیدانو ځای ونیسی او یوازې د خواخوږۍ او غمشریکی په توګه زیانمنو ته ورکړل شوې، نوموړی زیاته کړه چې له مرکز څخه د خوراکی او غیرخوراکی مرستو جوپې هم دغه ولایت ته را روانې دی او د پېښې له امله ټولو زیانمنو ته به رسېدنه وشی.
همدارنګه د نغدی مرستو ترلاسه کونکی د اسلامی امارت له مسوولینو څخه د مننې ترڅنګ خوښۍ څرګنده کړه او د نورو مرستو غوښتنه یې هم وکړه.
په پای کې ښاغلی ترابی صاحب، د ننګرهار ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست له ګدامونو څخه هم د لیدنې ترڅنګ مسوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

## ۲۵۰ سېلاب ځپلې کورنۍ په کابل ولایت کې له خوراکی مرستو برخه منې شوې



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست د محترم محمد سلیم حقانی، د کابل ولایت پېښو سره د مبارزې رییس او د افغان ماشومانو لپاره د جرمنی مرستې د موسسې استازی په شتون کې ۲۵۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.
محترم الحاج ترابی صاحب د دې مرستو د وېش پر مهال ووېل: چې دغه مرستې د افغان ماشومانو لپاره د جرمنی مرستې د موسسې لخوا د 250 کورنیو لپاره چې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنې شوی وې، تنظیم شوې دی.
ښاغلی ترابی صاحب د نوموړی موسسې څخه د دغو مرستو په پار د مننې ترڅنګ ووېل: چې دغه مرستې د کابل ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست سره په همغږۍ چمتو شوې دی، او په دغو مرستو کې د هرې کورنۍ لپاره ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړی، ۷ کیلو لوبیا، ۷ کیلو وریجې، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو شین چای په پام کې نیول شوې ده.

## محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په تورخم کې پروت د عمری کمپ د کډوالو ستونزې واورېدې



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی صاحب, د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, د ننګرهار ولایت د تورخم په سیمه کې پروت د کډوالو په عمری کمپ کې له کډوالو سره خواخوږی وکړه.
ښاغلی ترابی صاحب, د محترم مولوی سعید احمد بنوری د ننګرهار ولایت مقام مرستیال په ملتیا په تورخم کی عمری کمپ ته د سفر پر مهال, د کډوالو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او زیاته یې کړه چې, د افغانستان اسلامی امارت په استازیتوب د پیښې ځپلو سره د خواخوږی لپاره راغلی دی او ستاسو ستونزې او وړاندیزونه به د مشرتابه مقام او ریاست الوزرا پورې ورسوی او ستاسو د ستونزو هوارولو لپاره به پوره هڅې وکړی.
ښاغلی ملا نورالدین ترابی زیاته کړه چې ننګرهار ولایت ته د شهیدانو ورڅه او ټپیانو سره د لیدنې په موخه یې یاد ولایت ته سفر کړې, خو په څنګ کې په عمری کمپ کې د وروستیو طوفانونو له امله د خیمو د ویجاړېدو په اړه خبر شو او پرېکړه یې وکړه چې د دغه کمپ څخه هم لیدنه وکړی او د خپلو هیوادوالو له ستونزو خبر شی.
ورته مهال محترم مولوی سعید احمد بنوری د ننګرهار ولایت مقام مرستیال, ننګرهار ولایت ته د ښاغلی ملا نورالدین ترابی له سفر څخه په مننې سره ووېل, چې د افغانستان اسلامی امارت مشرتابه تل د خپلو هیوادوالو په خدمت کې دی, او له دوی څخه به هیڅ ډول مرستې و نه سپموی.
ورته مهال د ننګرهار ولایت پېښو سره د مبارزې رییس یادونه وکړه, چې څه موده مخکې له ۴۵۰ څخه زیاتې خیمې او ۳ جنراتورونه یې د نورو خدمتونو ترڅنګ کډوالو ته وېشلې دی.
همدارنګه ښاغلی ترابی صاحب, یو شمېر ټپی شویو کډوالو ته نغدی پیسې هم ووېشلې.
په پای کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, د وروستیو طوفانونو له امله د ویجاړو شویو خیمو له سیمې او صفری نقطې څخه هم لیدنه وکړه.

## سفر رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به جرم؛ سیلاب‌زدگان ولسوالی جرم- بدخشان نزدیک به ۱,۵۰۰,۰۰۰ افغانی پول نقد دریافت نمودند



آسیب‌دیدگان که از اثر سیلاب های اخیر در ولسوالی جرم ولایت بدخشان به گونه کلی و قسمی تخریب شده بود از سوی محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد، رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث، در جریان سفرش به ولایت بدخشان، با حضورداشت محترم مولوی فضل الله حنیف ولسوال جرم ولایت متذکره، قاری محمد خوشحال زمانی، رئیس مرکز عملیات اضطرار، هیئت همراه شان و محترم مولوی محمد اکرم اکبری رئیس آمادگی مبارزه با حوادث بدخشان، پول نقد توزیع شد.
قابل یاداوریست که در این کمک مالی برای آسیب‌دیدگان حوادث طبیعی که منازل شان از اثر سیلاب های اخیر در ولسوالی جرم این ولایت تخریب شده بود مبلغ ۱,۴۸۵,۰۰۰ افغانی پول نقد توزیع شد.

## معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث طی سفر اضطراری جهت رسیدگی به سیلاب‌زده‌گان عازم ولایت کاپیسا شد



محترم الحاج عبدالولی څارنوال معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث، همراه با ملا نور محمد بدری، رئیس وقایه و کاهش خطر جهت رسیدگی به متضررین ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها در ولایت کاپیسا عازم این ولایت شد.

معین امور انسجام حوادث با مولوی محمد صابر احمد رئیس آماده‌گی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا و کارمندان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا دیدار نموده، ضمن استماع آخرین جزئیات از تلفات و خسارات ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها در این ولایت گفت: هدف از سفر ما به ولایت کاپیسا رسیدگی، دلجویی، غم‌شریکی با ورثه شهدا و مجروحین و سروی دقیق از ساحات آسیب دیده است.

سپس رئیس و کارمندان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا معلومات از آخرین جزئیات تلفات و خسارات ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها و امکانات دست داشته شان را ارائه نمودند.

در اخیر محترم الحاج عبدالولی څارنوال معین انسجام اداره ملی آماده‌گی مبارزه به رئیس و کارمندان مبارزه باحوادث این ولایت هدایت سپرد از تمام امکانات برای رسیدگی به متضررین استفاده گردد.

## د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست د طبیعي پېښو له امله زیانمنو سره د خواخوږۍ او بشري مرستو د وېش په موخه لغمان ولایت ته ورسېد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست د طبیعی پېښو له امله زیانمنو سره د خواخوږۍ او بشري مرستو د وېش په موخه لغمان ولایت ته سفر وکړ، او د محترم مولوی شیر احمد حقانی د لغمان ولایت والي په شتون کې یې د طبیعي پېښې له امله د شهیدانو ورثه سره وکتل او له خدای ج څخه یې شهیدانو ته د جنت الفردوس او ټپیانو ته د ببړنۍ شفا د دعا په کولو سره ووېل، چې موږ د عالیقدر امیرالمومنین حفظ الله تعالی د حکم پر بنسټ لغمان ولایت ته راغلی یو ترڅو ستاسې ستونزې او وړاندیزونه تر مشرتابه پورې ورسوو، او ترڅنګ یې د شهیدانو له ورثه سره د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه د غمشریکی پیغام هم شریک کړ.

ورته مهال ښاغلی ترابي صاحب، د سختو بارانونو له امله د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته نغدی مرستې ووېشلې، چې د هر شهید کورنۍ ته ۱۰۰ زره افغانۍ او هر ټپی شوی کس ته ۵۰ زره افغانۍ ورکړل شوې، او نوموړی زیاته کړه چې له مرکز څخه به خوراکی او غیر خوراکی مرستې هم مشرقی ولایاتو ته انتقال شی.

همدارنګه محترم مولوی شیر احمد حقانی د لغمان ولایت والي په خپلو خبرو کې د پېښو پر وړاندې چمتووالی ملی ادارې سرپرست ته په ښه راغلاست سره ووېل: چې د افغانستان اسلامی امارت دی ته ژمن دی، چې په وخت سره زیانمنو ته رسېدنه وکړی او په راتلونکې کې به هم دغه ډول مرستې ترسره کړی.

په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو خوښۍ څرګنده کړه او د قایوی پروژو پلی کېدو غوښتنه یې هم وکړه.

## دیدار رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با والی بدخشان



محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث که توسط محترم قاری محمد خوشحال زمانی رئیس مرکز عملیات اضطرار و هیئت مرکز همراهی می‌شد، در سفر رسمی که به منظور توریع کمک نقدی برای آسیب‌دیدگان سیلاب های اخیر عازم ولایت بدخشان شده بود، پیش از چاشت امروز با محترم الحاج مولوی محمد ایوب خالد والی بدخشان دیدار نمود.

در این دیدار که محترم مولوی محمد اکرم اکبری رئیس آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت نیز حضور داشت، در ابتدا، والی بدخشان ضمن خوش‌آمدید گویی به هیئت اعزامی مرکز گفت: این ولایت از منظر حوادث طبیعی خیلی حادثه‌خیز و آسیب‌پذیر بوده و آنان در پاسخگویی به متضررین با چالش‌های زیادی مواجه هستند. وی خواهان توجه بیشتر مسوولین و اسکان مجدد برای متضررین شده افزود که با تطبیق پروژه‌های وقایوی و بنیادی می‌توان افراد آسیب پذیر در ساحات معروض به خطرات را از حوادث احتمالی طبیعی مصوون نمود.

سپس محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد رئیس عمومی مالی و اداری اداره، ضمن ابراز توجه رهبری ا.ا.ا جهت رسیدگی به متضررین سیلاب‌های اخیر در این ولایت گفت که هیئت متذکره به اساس هدایت مقام عالی ریاست الوزرا در هماهنگی با معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا، به ولایت بدخشان سفر نموده و قرار است تا برای آسیب‌دیدگان که خانه‌های شان از اثر سیلاب های اخیر در ولسوالی‌های یمگان، جرم و تگاب این ولایت تخریب شده کمک نقدی صورت بگیرد.

گفتنی است که برای ۳ تن ورثه شهید در تگاب و ۳ تن ورثه دیگر در یمگان از سوی معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا کمک نقدی برای هر کدام ۱۰۰ هزار افغانی توسط نماینده این ولایت توزیع شده و هیئت متذکره صرف برای سیلاب‌زدگان که منازل شان تخریب شده پول نقد مساعدت می‌نماید.

## توزیع مساعدت‌های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی برای متضرران حوادث طبیعی اخیر در پنجشیر



ریاست آمادگی مبارزه با ولایت پنجشیر به اساس تفاهم‌نامه از قبل امضاء شده در همکاری موسسه اجتماعی و انکشافی توحید (TSDO) با حمایت مالی سازمان غذایی جهان (WFP)، سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) و دفتر یونیسف (UNICEF)، برای ۲۲ خانواده از ولسوالی‌های مختلف آن ولایت، که از اثر سیلاب‌ها و بارنده‌گی های اخیر، منازل شان تخریب و متضرر گردیده بودند، بعد از سروی و شناسائی مواد غذایی، پول نقد و مواد غیر غذایی توزیع و مساعدت گردید.

این کمک‌ها از طرف سازمان بین المللی مهاجرت به هر خانواده مبلغ ۹۱۵۰ افغانی، از طرف موسسه یونیسف به هر خانواده ۶ تخته کمپل، یک بسته البسه، یک بسته صحی. و ۲۰ کلچه صابون و از طرف سازمان غذایی جهان به هر خانواده ۸ بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۲۵ کیلو دال، ۱۸.۲ کیلو روغن، ۲ کیلو نمک، ۲.۱ کیلو بسکویت توزیع شد.

## معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث طی سفر اضطراری جهت رسیدگی به سیلاب‌زده‌گان عازم ولایت پنجشیر شد



محترم الحاج ملا عبدالولی ثارنوال (حاجی وارث) معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث، همراه با ملا نور محمد بدری، رئیس وقایه و کاهش خطر جهت رسیدگی به متضررین ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها در ولایت پنجشیر عازم این ولایت شد.
معین امور انسجام حوادث با محب‌الله مجاهد، رئیس آماده‌گی مبارزه با حوادث و کارمندان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر دیدار نموده، ضمن استماع آخرین جزئیات از تلفات و خسارات ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها در این ولایت گفت: هدف از سفر ما به ولایت پنجشیر رسیدگی، دلجویی، غم شریکی با ورثه شهدا و مجروحین و سروی دقیق از ساحات آسیب‌دیده است.
معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث گفت: به اساس هدایت مقام محترم ریاست الوزرا، محترم معاون اقتصادی و محترم سرپرست اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث به منظور بازدید از ساحات آسیب‌دیده، غم‌شریکی با ورثه شهدا و دلجویی از متضرران ناشی از سیلاب‌های اخیر به ولایت پنجشیر آمده ایم تا برای متضرران رسیدگی بهتر صورت گیرد.
محترم ملا الحاج عبدالولی ثارنوال (حاجی وارث) روی سفر اخیرش به ولایت کاپیسا و سفرهای محترم سرپرست اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث به ولایت‌های ننگرهار، کنر و لغمان صحبت کرده به رئیس آماده‌گی مبارزه با حوادث این ولایت هدایت سپرد تا همزمان با سروی رسیدگی لازم برای متضرران توزیع گردد.
سپس رئیس و کارمندان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر معلومات از آخرین جزئیات تلفات و خسارات ناشی از سرازیر شدن سیلاب‌ها و امکانات دست داشته شان را ارائه نمودنده خواهان توجه رهبری اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث شد.

## توزیع کمک‌های غیرخوراکی برای ۲۰ خانواده متضرر در ولسوالی یمگان




ریاست آماده‌گی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان در همکاری با دفتر آقاخان برای اسکان(AKAH) برای ۲۰ خانواده که قبلاً در ولسوالی یمگان از اثر سیلاب‌ها متضرر شده بودند، بعد از سروی به هر خانواده ۱۱ قلم مواد غیرخوراکی توزیع نمود.
این کمک‌ها شامل؛ ۳ تخته کمپل، یک پایه خیمه، یک عدد سطل، ۲ دانه سیستم آب رسانی کوچک، ۳ کلچه صابون لباس شویی، ۳ کچه صابون، یک‌عدد برق سولری، یک دانه پیک نیک گاز ۵ کیلویی، یک بسته ظروف آشپزخانه، یک بسته لباس اطفال و ۲ تخته ترپال توزیع گردید.
گفتنی است که قبلاً در همکاری با سازمان غذایی جهان برای این خانواده‌ها کمک‌های خوراکی توزیع گردیده بود.

## د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په جلال آباد ښار کې د طوفانونو له امله د ټپيانو عيادت وکړ



محترم الحاج ملا نورالدين ترابی، د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، په داسې حال کې چې محترم مولوی سعيد احمد بنوری د ننګرهار ولايت مرستيال والی، محترم الحاج ملا جانان سايق د ادارې د اطلاعاتو او عامه اړيکو رييس، محترم مولوی سيف الله خالد د ياد ولايت پېښو سره د مبارزې رييس يې ملتيا کوله، د دغه ولايت په ولايتی روغتون کې د بستر شويو او غير بستر شويو ټپيانو عيادت وکړ.

محترم الحاج ترابی صاحب، د دې ترڅنګ چې د پېښې زيانمنو ته يې د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه او د رياست الوزرا پيغام بيان کړ، او ويې ويل چې موږ نن د اسلامی امارت د مشرتابه د لارښوونې پر بنسټ، تاسو ته د خواخوږۍ په موخه نغدی مرستې راوړې او محترم ترابی صاحب، د ننګرهار ولايت د پېښې له امله هر ټپی شوی کس ته ۵۰ زره افغانی ووېشلې.

د يادونې وړ ده چې د ننګرهار ولايت طوفانونو له امله د ټپيانو شمير سلګونو کسانو ته رسيږی.

په پای کې د پېښو پر وړاندې د چمتوالی ملی ادارې سرپرست زياته کړه چې له زيانمنو سره به خوراکی او غير خوراکی مرستې هم ترسره شی.

## په زابل ولايت کې د ماين چاودنې له امله ۶ زيانمنو کورنيو نغدی مرستې ترلاسه کړې



د DRC موسسې د زابل ولايت پېښو سره د مبارزې رياست سره په همغږۍ، د ياد ولايت مرکز قلات او بېلابېلو ولسواليو اړوند ۶ کورنيو ته چې د کورنۍ غړی يې د ناچاوده توکو د چاودېدو له امله شهيدان او ټپيان شوی و، له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

د نغدو مرستو د وېش په لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۹۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## برای ۳۰۰ فاميل متضرر و آسيب‌پذير در ولايت دايکندی مساعدت غذايی توزيع گرديد



برای ۳۰۰ فاميل متضرر از حوادث طبيعی و خانواده‌های شهداء و معلولين از جانب بنياد قمر با هماهنگی رياست مبارزه باحوادث و رياست شهداء و معلولين مساعدت غذايی صورت گرفت.

در اين مساعدت برای هر فاميل، ۹ قلم مواد غذايی از قبيل؛ يک بوری آرد ۵۰ کيلويی، ۷ کيلو لوبيا، ۷ کيلو دال، ۱۰ ليتر روغن، ۴ کيلو شکر، يک کيلو چای، يک کيلو شير خشک، ۴ کيلو خرما و يک کارتن تخم مرغ توزيع گرديد.

## دیدار از ساحات آسیب‌دیده تگاب-بدخشان؛ برای سیلاب‌زدگان مبلغ ۱،۸۲۵،۰۰۰ افغانی مساعدت نقدی صورت گرفت



به سلسله کمک‌های نقدی هیئت اعزامی مرکزی به رهبری محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به ولایت بدخشان، خانواده‌های که خانه‌های‌شان از اثر سیلاب‌های اخیر در ولسوالی تگاب این ولایت به گونه کلی و یا قسمی تخریب شده بود، مورد مساعدت نقدی قرار گرفتند.

محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد رئیس عمومی مالی و اداری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث امروز ضمن دیدار از ساحات آسیب دیده ولسوالی یاد شده، با حضورداشت محترم مولوی محمد سرور حکیمی ولسوال تگاب ولایت بدخشان، قاری محمد خوشحال زمانی، رئیس مرکز عملیات اضطرار و محترم مولوی محمد اکرم اکبری رئیس آماده‌گی مبارزه با حوادث ولایت متذکره پول نقد توزیع نمود.

مولوی صاحب زاهد ضمن یادآوری تعهد ا.ا.ا مبنی بر رسیدگی به موقع برای متضررین حوادث گفت: به اساس حکم مقام عالی ریاست الوزرا و هدایت معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا ا.ا.ا، به ولایت بدخشان آمدیم تا کمک‌های نقدی را به منظور دلجویی و رسیدگی به متضررین سیلاب های اخیر و ترمیم مساجد و سرک توزیع نمایم وی افزود که هر آسیب دیده که در هر گوشه ی کشور باشد در حد توان برای شان رسیدگی خواهد شد.

در ادامه، محترم مولوی محمد سرور حکیمی ولسوال تگاب ولایت بدخشان: در کنار خوش‌آمدید گویی به مولوی صاحب زاهد و هیئت اعزامی مرکزی از توجه رهبری ا.ا.ا به خصوصی اداره حوادث ابراز خرسندی کرده و از مساعدت نقدی به سیلاب‌زدگان سپاس‌گزاری نموده خواهان اعمار منازل مسکونی و تطبیق پروژه‌های وقایوی شد.

باید گفت که در این مساعدت نقدی برای سیلاب‌زدگان اخیر در ولسوالی تگاب این ولایت مبلغ ۱،۷۲۵،۰۰۰ افغانی، برای ترمیم یک محراب مسجد در قریه رباط و یک محراب مسجد دیگر در قریه زکاب ولسوالی متذکره مبلغ ۱۰۰،۰۰۰ افغانی پول نقد از سوی هیئت متذکره توزیع شد.

## مبلغ ۱۶ میلونو ۹۶۰ هزار افغانی برای ۳۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت و مستحق در لوگر توزیع شد



موسسه RRAA در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، برای ۳۲۰۰ خانواده مستحق و بی بضاعت در ولسوالی‌های خروار و آزر آن ولایت کمک نقدی توزیع کرد.

این روند که ۱۸۰۰ خانواده را در ولسوالی خروار و ۱۴۰۰ خانواده را در ولسوالی آزار تحت پوشش قرار می‌داد، برای هر خانواده مبلغ ۵۳۰۰ افغانی مساعدت صورت گرفت.



عبدالباری رحـم دل

مدیر عمومی NDMIS

# جلوگیـــری از بالا رفتن تلفـــــات و خسارات ناشـــی از جاری شدن سیلاب

## قسمت چهارم مقاله

### اقدامات مهندسی زمینه‌ای برای کنترل جاری شدن سیلاب

٦- استفاده از فناوری‌های مدیریت آب:

استفاده از فناوری‌های مدیریت آب مانند سامانه‌های هوشمند آب، سیستم‌های هشداردهنده و پایش آب، و استفاده از مدل‌سازی هیدرولوژیکی می‌توانند به بهبود مدیریت منابع آبی و کنترل جاری شدن سیلاب کمک کنند.

٧- **توسعه سیستم‌های هشداردهنده و اطلاع‌رسانی:**

توسعه و بهینه‌سازی سیستم‌های هشداردهنده و اطلاع‌رسانی سیلاب می‌تواند به افزایش زمان واکنش و کاهش خطرات ناشی از جاری شدن سیلاب کمک کند.

### توسعه زیرساخت‌های مقاوم در برابر سیلاب

١. **ساخت بندرهای محافظ:**

بندرهای محافظ یا سازه‌های مهندسی زمینه‌ای می‌توانند به کنترل جریان آب و کاهش خطرات سیلاب کمک کنند. این سازه‌ها می‌توانند شامل مواردی مانند دیوارهای محافظ، پشته‌های خاکی، و سازه‌های با مقاومت بالا به جریان آب باشند.

٢. **توسعه سیستم‌های زهکشی مقاوم**:

سیستم‌های زهکشی مقاوم شامل لوله‌کشی‌های مقاوم در برابر فشار آب، دریچه‌ها، و کانال‌های زهکشی می‌شوند که می‌توانند جریان آب را به مناطق ایمن هدایت کنند و از آسیب به زیرساخت‌های مختلف جلوگیری کنند.

۳. **ساخت سدها و مخازن آبگیر:**

سدها و مخازن آبگیر می‌توانند به جذب و ذخیره آب جاری و کاهش حجم آب‌های سیلابی کمک کنند. این سازه‌ها می‌توانند آب را در دوران سیلاب جذب کرده و در دوران خشکسالی منابع آبی را تأمین کنند.

٤. **ساخت مخازن جریان:**

مخازن جریان یا retention basins می‌توانند به کنترل جریان آب و کاهش سرعت آن کمک کنند. این سازه‌ها می‌توانند در مناطق پرآبده و دریاچه‌ها وجود داشته باشند و به تسهیل تخلیه آب در دوران سیلاب کمک کنند.

٥. **استفاده از مصالح مقاوم:**

در طراحی و ساخت زیرساخت‌ها، استفاده از مصالح مقاوم مانند بتن مسلح و فولاد با کیفیت بالا می‌تواند به افزایش مقاومت زیرساخت‌ها در برابر نیروهای سیلاب کمک کند.

٦. **توسعه سیستم‌های هشداردهنده:**

سیستم‌های هشداردهنده و پایش جریان آب می‌توانند به زودیترین شناسایی خطرات سیلاب و هشداردهی به مردم کمک کنند، که این اقدام می‌تواند به جلوگیری از خسارات جدی بیشتر کمک کند.

۷. **بهبود زیرساخت‌های زهکشی:**

با بهبود زیرساخت‌های زهکشی می‌توان از آب‌گرفتگی مزارع و مناطق شهری جلوگیری کرده و از تخریب زیرساخت‌های عمومی جلوگیری کرد.

این اقدامات نشان می‌دهد که توسعه زیرساخت‌های مقاوم در برابر سیلاب می‌تواند به کاهش خطرات ناشی از سیلاب و افزایش ایمنی و مقاومت زیرساخت‌ها کمک کند.

## پیام ما:

## نکارت ذیل را قبل از وقوع سیلاب رعایت نمایید

- در ساخت و ساز در مناطق سیل خیز از مواد مقاوم استفاده نمایید
- از ساخت و ساز در مسیر سیلبرها خود داری نمایید
- اسناد و وسایل ضروری را در محل امن قرار دهید
- آماده کردن بکس کمک های اولیه
- ذخیره کردن آب آشامیدنی صحی
- ذخیره مواد غذایی